

# د سولې سفر

### پنځمه کیسه

دوهم چاپ

# د یونس سندره


**لیکونکي:**

داکتر جوانا سنتا باربارا
ماری- جو لند
داکتر گرایم مک کوین
کیون آرتر لند

دیزاین: یار محمد تره کي
*انځورکونکئ : ل. غفوری*

*ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل*



موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**کيسې او د ښوونکي لارښود په لاندې ويب سايتونو کې شته دئ:**

**www.journeyofpeace.ca**

**او**

**www.htac.org**

HTAC

ددې کيسې کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمويل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

# د سولې سفر

**پنځمه کیسه**

**دوهم چاپ**

# د یونس سندره


لیکونکي:

داکترجوانا سنتا باربارا
ماري- جو لند
داکترگرایم مک کوین
کیون آرترلند

دیزاین: یار محمد تره کي

انځورکونکۍ : ل. غفوری

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر گرایم مک کوین

ژباړونکي : ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان



دسولي دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي. **احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله:** دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا:** دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنۍ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو ترور او د یونس کاکا ځوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکيسې لنډيز :

جميله له خپلي کورنۍ سره دافغانستان په يوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه داخلي اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلې وي اوهغه يي لا هېرې شوې نه وې چې يوبل مصيبت وربانديې راغی . يونس کا کا چې په ځمکه کې يي کار کولو،يوماين پرې والوت اوهغه يي ووژه اوپلار يي ،ميرزا، يوه پښه له لاسه ورکړه . **دجميلې دسوغات په کيسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې ديوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشويش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران يوملګري ته کلک ګذاروركړی دئ اودهغه په شخصيت اوسلوک يي بدلون راوستی دی . دجميلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په يوه ځانګړې طريقه دهغې درملنه وکړي په دې کيسه کې ځاي شويدي .

د **بی بې جان د هوښياری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د يوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشويش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د يوملګري روغتيا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصيت او سلوک کې يې بدلون راوستی دئ، د جميلې د ويرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په يوه ځانګړی طريقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجميلې ددردونو اورنځونو څخه حکايت کوي . هغه ماين دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماينوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي .  بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جميلې سره مرسته کوي اوله همدې وخت څخه په ګټې اخيستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دتپي کېدلوغم وزغمي. همدارنګه بي بي جان غواړي داسې يوآغېزمنه لارپيداکړي چې دهغې په وسيله فاطمه وهڅول شي  هغه غم چې ورته ديونس کا کا دمړينې له امله پيداشوی دئ په خپله ژبه

ووای **دمیرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجمیلې لپاره دادېره ستونزمنه ده چې وپوهیږي ، دمیرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه یې دومره غمجن کړیدئ . جمیله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاریې اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معیوب کېدلو څخه چې مخکې و . پلاریې داسې یو سړی وچې ډېرې کیسې یې زده وې . دجمیلې ماشومانه پوښتنې میرزا ته ژړاورولي ، اودا ورپه یادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی و . اوداهیله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندۍ کوي .

**دیونس دسندرې په کېسه کې** احمد اوجمیله دیونس دځوانې کونډې ، فاطمې ، غم اوخپګان احساسوي او کوښښ کوي چې هغه بېرته خوشحاله کړي . بې بي جان هم په دې موضوع پوهېږي ؛ هغه خپلې کورنۍ ته دځینو لارو وړاندیز کوي ؛ چې سره راټول شي اوهغه ښې خاطرې چې له یونس څخه ئې لري ؛ دسندروپه ویلوسره ولمانځي .

**درملنې عنصرونه :**

تصویرونه او روغتیا بخښونکي نخښې : لوبې ، خوښي ، مینه

**دسلامتیا اوهوساکولو لپاره لارښوونې :** دنده اودنوښت هنر، یوزړه کېدل ، درس ورکول


**ستونزې :** غم اوغصه

**ددرملنې لارې:** ټوکې ټکالې ، دنورو دخوشحالولو لپاره کوښښ ، دغمونو او اوخاطرو دشریکولو لپاره هڅه ، دغم پرځای دبل ځای ناستې پیداکول

# دیونس سندره



احمد اوجمیلې په حوېلی کې په توپ لوبې کولې ؛ توپ ئې یوبل ته ورگذارولو اوسره خندل به ئې .



فاطمه په یو ګوټ کې ناسته وه اوخپل درزي توب ئي کولو.  توپ ئي پښوته نږدې ورغی.



احمدنارې کړل : "  فاطمې ترور! توپ بېرته راواچوه . فاطمې بې له دې چې هغوی ته وروګوري توپ ئې په پښې سره دهغوی لورته ورروواهه .

" جمېلې احمد ته اشاره وکړه چې ددیوال شاه ته لاړشي اووروئې احمد ته وویل:

" فکرکوم چې فاطمه تروربیا ژاړي. "احمد ځواب ورکړ:  " هو! هغه ډېره ژاړي. هغه نوره دپخوا په شان له مونږ سره لوبې نه کوي .

" احمد دنا امیدئ احساس وکړ او دپخلنځي په ور لاړو.



جمیله ناسته وه اوفاطمې ته ئې کتل . هغه په دې فکر کې وه چې څه وکړي چې ترور ئې آرامتیا احساس وکړي . هغې باندې خپله مهربانه او غلې ترور ډېره ګرانه وه . پخوا به فاطمې جمیلې ته کیسې ویلې اوهغې ته به ئې دابنودل چې څرنګه هغه کارونه وکړې چې لویان ئې ترسره کوي .

خودماین له چاودېدلو وروسته فاطمه په غمونو کې ډوبه وه . جمیله پدې پوهېدله چې فاطمه دماین دچاودېدلو دپېښې دوحشتناکه خاطروپه وړاندې مبارزه کوي .

جمیلې ځنې وختونه فاطمې سره په دې خبرې کولې چې څرنګه پر غمجنو خاطرو ځان بریالی کړې که څه هم دادېر ستونزمن کارو خوبیا هم جمیلې غوښتل چې تروړئې داغمونه شاه ته وغورزوي .



پدې وخت کې احمد یو مسي دېګې په
سرنیولئ و ؛ داشپزخانې دروازه ئې په ډېر
شدت پرانیستله ؛  اودباندې راووت .
دلرګې په څمڅۍ ئې په دیګ ډول واهه ا و
دفاطمې له مخې هغه خوا ،دغه خوا تیرېده
راتېرېده.


فاطمې په مسکا وویل : "  احمد ! احمد ! داڅه کوې ؟ "
احمد چې دېګۍ ئې مخې ته
نیولۍ و ځواب ورکړ: "
ترور زه غواړم چې
تاوخندوم ځکه ته غم کې
ډېره ډوبه شوې ئې . "

فاطمې وويل : "  ښه ، اي شوخه ، ته خپله شوخي کوي ؟"

احمد تپوس وکړ  :  فاطمې ترور ته ولې دومره ډېره ژاړې ؟





جميلې وويل :  " اوه ! احمد غلئ شه . ته خپله ښه پوهېږي چې تروروليې ژاړي ، هغه ديونس کا کا دمړيني له کبله ژاړي . "


فاطمې وويل : "

جميلې خبردئ ، پرېږده چې احمد له ما څخه تپوس وکړي . زما ژړاديونس په خاطر ده زه هغه پسې ډېره خپه يم . "

احمد وويل : "  زه هم هغو ورځو پسې چې يونس کا کا به له ما سره په توپ لوبې کولې خپه شوی يم . ستا په ياددي کله به چې ما هغه ته توپ وراچولو  هغه توپ نه نيولو اوځان ئې داسې ئې ښودلو چې ګواکې هغه توپ نېولی نه شي . "

جمیلې وویل : "  اوستا په یاددې چې هغه به زه دڅاه چاپېره زغلولم ؟ "
دفاطمې پرمخ اوښکې بیا راوبهېدلې .
جمیلې وویل : "   اوه ، نه ، مونږ هغه بیا وژړوله . اوه ،فاطمې ترور مونږوبخښه !
مونږ به هیڅکله هم دیونس کاکا په باره کې ونه غږېږو. "
په داسې حال کې چې فاطمې ژړل . دجمیلې سترګې هم له اوښکو ډکې شوې وې  .





په همدې وخت کې بي بي جان دفاطمې څنګ ته راغله اووئې ویل: " ښه ده چې وژاړو ،ښه ده چې نور کسان هم په خپلوخاطروکې راګډ کړو . ښه ده چې دیونس دصفتونو په باره کې ، چې په مونږټولو ډېر ګران و، خبرې وکړو . یونس بیخي ډېر، ښه صفتونه درلودل چې زمونږ ټولو هغه صفتونه خوښېدل. " وروسته ئې فاطمې ته وویل : " فاطمې ! یونس سره دې دواده ورځ په زړه ده ، هغه تاسره څومره ټوکې کولې . یونس تاته په ټوکه ویل: ما فکر کاو چې زه دخپلې کورنۍ په ټولوکې هوښیار کس یم خوستا له راتلو وروسته ، زه ډاډه شوم چې دخپل فامیل په ټولوکې هوښیار سړی یم ؛ هغه وخت به ستارنګ دومره تک سورشو چې ما به فکرکاو لکه چې له مخ څخه دې وینې څاڅي . "



فاطمې وویل: "  یونس له دې کبله، چې ماتحصیل کړئ ، ووياړکاو . خونه پوهېږم چې اوس تحصيل څه په درد خوري او زه دکوم درد لپاره دوایم ؟! "

دائي وویل اونوره بېرته په خپله خیاطی لګیاشوه. جمیلې په زاریو وویل : "  فاطمې ترور! ته کولی شي چې ماته لیک اولوست راوښيي ، یونس کاکا هم غوښتل چې زه یوه تحصیل لرونکې نجلۍ شم . ترورجاني ، ماته لوست راښيي ؟ "

فاطمې ځواب ورکړ : "  اوه ، هو جمیلې ، زما هم خوښيږي چې تاسره په درسونو کې مرسته وکړم .  بي بي جان ! ایا داکاربه وکړاي شم ؟ "

بي بي جان وویل: " فکرکوم چې یونس له تحصیل سره ډېره مینه درلوده . تاسو دواړه یووخت وټاکئ ،کله مو چې دکورورځني کارونه خلاص کړل دواړه سره یوځای درس ووايي .

خوفاطمې داچې مونږ څومره له کړاو څخه ډکې شپې اوورځې تېروو ،غواړم چې له تاسره پرې خبرې وکړم . "

فاطمې په داسې حال کې چې خپلې اوښکې پاکولې وویل : "  زه نه غواړم چې تاسونارامه کړم . داستاسو لپاره ډېره ګرانه ده ، یونس ستا سو کشر زوی و اوپه  تاسو ډېرګران و. "

بي بي جان وویل : "   ګراني فاطمې ! دازما اوستا دواړو لپاره ګرانه ده ؛ ځکه زه ئې مور یم اوته ئې میرمن يې. له همدې کبله مونږ یوبل سره مرسته کولئ شو. زه نه غواړم چې ځان ، ځان ته  دهغه غم ته اوړه ورکړو. زه غواړم هغه ښې خاطرې چې له یونس څخه ئې لرم له تاسره شریکې کړم . هغه په تابانده ډېرګران و اوهغه دې ډیرخوشحاله ساتلو .  فاطمې !  راځه چې دشپې له ډوډۍ نه وروسته هره شپه یوه ګړۍ سره کښينو ؛ وچه میوه اوچای به ايښئ وي ؛ دیونس عکسونوته به ګورو اودخوښۍ هغه ورځې چې مونږتول سره یوځای وو په یادراولو. راځه چې له همدې نن شپې څخه شروع وکړو. "

فاطمې خپل سرورته دهو په معنا وخوځولو.  دهغې احساسات دومره پاربدلې و چې خبرې ئې نه شوې کولئ .

بي بي جان وویل : "  دابه ډېره ښه وي که ته مهرباني وکړې ؛ هغه غاړه کۍ چې یونس درته راوړې وه اوستا به ډېره خوښېدله یوځل بیا په غاړه کړې .  زه غواړم چې هغه غاړه کۍ دې یوځل بیا په غاړه کې ووینم  اوخبره دې ئې چې دیونس اروا به هم په دې خوشحاله شي . "

فاطمې بیا ورته سروخوزولو .



احمد وويل : "   فاطمې ترور ! هغه خندونکي بيتونه دې په ياد دي چې يونس کاکا به تل ماته ويل . "  فاطمې دهمغو بيتونو په زم زمه کولو پيل وکړ . بي بي جان اوکوچنيانو هم فاطمې سره په سندرويولوکې ورګډ شول . احمد په ديګې وهلو پيل وکړ . هغوی دتېرو خاطرو په يادولوسره ، په داسې حال کې چې دټولو پر مخ اوښکې بهيدلې ، خنداکوله . دوی ددې لپاره خندل چې هغه پخوانۍ له لاسه ورکړې خوشحالي يې بېرته کورته راوګرځوي .

*******

